ایا له تاسو څخه یو څوک نه وپرېږي - یا ستاسو څخه څوک دا وېره نه لري چې: کله دی له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به یې سر د خره وګرځوي، او یا به یې څېره د خره څېره وګرځوي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ایا له تاسو څخه یو څوک نه وپرېږي - یا ستاسو څخه څوک دا وېره نه لري چې: کله دی له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به یې سر د خره وګرځوي، او یا به یې څېره د خره څېره وګرځوي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا لپاره سخت ګواښ بیانوي چې له خپل امام څخه مخکې سر راپورته کوي، چې الله تعالی به یې سر د خره سر وګرځوي او یا به یې څېره د خره څېره وګرځوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3086